# د صلیبي اشغالګرو او د هغوی د لاسپوڅو ترور او وحشت



**خبر:**

د کندز ولایت د دشت ارچي ولسوالۍ پر هاشمیه دارالعلوم باندې د دوشنبې د ورځې په هوايي بریدونو کې سلګونو عامو خلکو ته مرګژوبله اوښتې. د دشت ارچي ولسوال نصرالدین سعدي رسنیو ته په‌ښنه تایید کړې او ویلي یې دي چې هوايي ځواکونو د دې ولسوالۍ په دفتاني کلي کې پر یوې مدرسې هوايي برید کړی چې له ۱۰۰ ډېر کسان پکې وژل شوي او شاوخوا ۲۰۰ نور ټپیان شوي دي. د سیمې اوسېدونکي هم وايي چې په دغه برید کې هغه عام خلک، دیني عالمان، د مدرسې فارغان او ماشومان په نښه شوي، چې دغو مراسمو ته ورغلي وو. په پارلمان کې کې د کندز ولایت استازي هم په پېښنه کې درنه مرګژوبله ملکي خلکو ته اوښتې بولي. مګر یوازې افغان حکومت او د هغه دفاع وزارت دا برید د افغان هوايي ځواکونو له خوا د «ترهګرو» په هغه قرارګاه ګڼي، چې د دوی په وینا «ترهګریز» فعالیتونه پکې ترسره کېدل.

**تبصره:**

دغه وحشیانه برید د ټرمپ د هغې خونړۍ ستراتیژۍ له مخې ترسره شو، چې په تېر اګست کې د افغانستان او سویلي اسیا لپاره اعلان شوه. د دغه ستراتیژۍ له اعلان وروسته امریکايي او افغان ځواکونو خپلو هوايي بریدونو ته سخت زور ورکړی ترڅو د هوايي بریدونو د فشار له لارې طالبان د خبرو اترو مېز ته کېنوي. مګر ډېری وخت دغه بریدونه پر ملکي موخو ترسره کیږي، چې وروستۍ بېلګه یې د کندز د دشت ارچي برید یادولای شو. په دې اړه د پژواک خبري آژانس د وروستي راپور له مخې په مارچ میاشت کې ۱۷۱ بریدونه شوي چې له امله یې ۱۰۱۸ تنه وژل شوي او ۷۹۲ نور ټپیان شوي دي. د مرګ ژوبلې دغه کچه د فبرورۍ میاشتې په پرتله ۲۹ سلنه لوړه شوې ده.

ټول افغانان او نړیوال د دې شاهدان دي، چې افغانستان د امریکايي اشغال له لومړۍ ورځې تر ننه د دا ډول ترور او وحشتونو ډګر دی. مګر له دغو وحشتونو سره-سره بیا هم د امریکا افغان لاسپوڅو له دغو صلیبي تروریستانو سره لومړی ستراتیژیک او بیا امنیتي تړون لاسلیک کړ؛ چې له امله یې رسماً امریکايي ځواکونو ته په افغانستان کې د شتون او د دا ډول وحشتونو د ادامې جواز ورکړل شو. دا دی اوس ټول دولتي او غیر دولتي بنسټونه دا ډول بریدونه یوازې په لفظي توګه غندي، هېڅوک یې د عاملینو محاکمه څه چې له هغوی څخه په دې اړه د پوښتنې ګروېږنې غږ لا نه پورته کوي. آن تر دې چې د رسنیو په شمول ټول اړخونه د جنایت د مشروعیت لپاره بېلابېل دلایل لټوي، ترڅو له اشغالګرو ځواکونو او ګوډاګي دولت سره یې اړیکې خرابې او فردي او سازماني ګټې یې له خطر سره مخ نه شي.

دغه تروریستي برید یو ځل بیا د امریکا جګړه ییز منطق او له مسلمان سره د هغوی کرکه په ډاګه کړه، چې د څو ګوماني مسلمانو وسله‌والو د وژلو لپاره د سلګونو ملکي وګړو، ماشومانو او سپین ږیرو ژوند اصلاً اهمیت نه ورته لري. بلکې ټولو ته یې ثابته کړه چې امریکا او افغان دولت چا ته ترویست وایي!؟ هغه مسلمان ته چې د امریکا او امریکایي افغان دولت ګټې وننګوي. بل پلو له «ترویزم» سره یې د امریکا د جګړې ماهیت یو ځل بیا بربنډ کړ، چې تر دغه نامه لاندې یې یوازې له اسلام او مسلمانانو سره سخته جګړه روانه کړې ده، حال دا چې اصلي ترویستان خپله امریکایان، د هغوی نړیوال ملګري او سیمه ییز ګوډاګي ځواکونه دي.

دغه برید د ماشوم او بشري حقونو تش په نامه غربي داعیې هم افشا کړلې، چې هغوی یوازې د غربي وګړو لپاره د پام او عمل وړ دي. مسلمانان او د هغوی ماشومان ورڅخه مستثنی دي. همداراز له افغان وسله والو مخالفینو سره یې د غربي لیبرالې سولې ماهیت هم څرګند کړ. یعنې تر هغه چې مسلمانان خپل سپېڅلی دین پرېنږدي او کفري ډیموکراسۍ ته تسلیم نه شي، نو د هغوی د ښځو، ماشومانو او سپین ږیرو وژل به همداسې دوام ولري.

په ټولو اسلامي خاورو کې د دا ډول ترور، وحشت او جنایتونو دوام د دې جدي اړتیا ثابتوي، ترڅو مسلمانان حاکم کفري نظامونه و نړوي، لاسپوڅي رویبضه (احمق) واکمنان له واکه لیرې کړي، پر ځای یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر طریقه دویم راشده خلافت تاسیس او له هغه امام (خلیفه) سره بیعت وکړي، چې د نړۍ د مسلمانانو د مقدساتو، وینو، مال، نوامیسو، شتمنیو او خاورې دفاع وکړي. ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**"إنما الإمام جنة يقاتل من ورائه و يتقى به"**

له شک پرته امام (خلیفه) هغه ډال دی، چې [امت] یې تر شا جګړه او له ځانه ساتنه کوي.

**سیف الله مستنیر**

د حزب التحریر - ولایه افغانستان د مطبوعاتي دفتر رییس